# د سولې پر وړاندې خنډونه: په افغانستان کې د پخواني حکومت د چارواکو او د پخواني افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو پر ضد د بشري حقونو سرغړونې:

۲۰۲۱ آګسټ ۱۵ - ۲۰۲۳ جون ۳۰

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو
مرستندویه پلاوي

# د دې راپور په اړه

دا راپور د افغانستان د خلکو لپاره د اندیښنې وړ د بشري حقونو د اوسنیو مسلو په اړه د یو لړ موضوعاتو مطالعاتو یوه برخه ده چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې لخوا د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پریکړه لیک په چوکاټ کې ترسره شوي. ، کوم چې د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) پریکړه لیک لخوا تمدید شوی.د ۲۶۲۶ پرېکړه لیک یوناما ته دنده ورکوی چې "د ټولو ښکیلو اړخونو سره په ملي او سیمه ایزه کچه او د مدني ټولنې او نړیوالو غیر دولتي سازمانونو سره د ټولو افغانانو د بشري حقونو په ساتنه او وده کې ښکیل شي"، او د ملکي وګړو د وضعیت څارنه، راپور ورکول او ملاتړ کول (او) د تاوتریخوالي مخنیوی او له منځه وړل. د دې ښکیلتیا د یوې برخې په توګه، د افغانستان فعلی چارواکو ته بلنه ورکړل شوې وه چې د راپور د محتوا په اړه خپل حقیقي نظرونه وړاندې کړي او د دوی ځواب ضمیمه شوی.

## سریزه

[۱] اوسني چارواکې وروسته له هغه چې د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې په ۱۵ نېټه افغانستان یې تر خپل ولکې لاندې راویست،[۲] د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د پخوانیو چارواکو لپاره او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پخواني غړي هغه څه چې دوی یې "عمومي بخښنه"بلي اعلان کړه.[۳] نږدې دوو کلونو کې په موده کې د اوسنې نظام ستر چارواکې د عمومي بخښنې په اړوند خپل ژمنتیا په پرله پسې او عام ډول سره اظهار کړي دي، د هغې د ساتلو او د سرغړونو په اړه یې د پلټنو او د هغو کسانو لپاره چې مسؤول وموندل شي د مجازاتو غوښتنه کوي.

په دغه تېره موده کې، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما)، د محاکمې پرته وژنې، په خپل سر نیونې، توقیف، شکنجې او ناوړه چلند په ګډون، د بشري حقونو د سرغړونو د باور وړ په سلګونه راپورونه ثبت کړي چې د اوسنې چارواکو له خوا د پخواني حکومت د چارواکو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو پر ضد تر سره شوي دي . د اوسنې چارواکو له خوا د دغه بشري حقونو د سرغړونو د پېښو د مجرمانو پر ضد د حسابورکونې او د تحقیقاتو د هڅو په اړوند لږ معلومات شتون لري.

پداسې حال کې چې د عمومي بخښنې اعلان یو ښه ګام و، د اوسني چارواکو نه بریالیتوب په بشپړه توګه د دوی په عامه توګه بیان شوي ژمنې پلي کولو کې پاتې راغلي، او د بشري حقونو د نړیوال قانون سره سم د خپلو مکلفیتونو په ترسره کولو کې، د یووالي او ثبات دواړو په جدي توګه اغیزه کولی شي.

د افغان ټولنې ثبات او انسجام او په هیواد کې د تلپاتې سولې د تامین لپاره هیلې په جدي ډول سره اغیزمنې کړي.

## د عمومي بخښنې پسینه

اوسنې چارواکې تر دم ګړیه د عمومي بخښنې د لارښود او حیطه په اړوند په عمومي ډول کوم لیکل شوي سند ندی خپور کړي. له همدې امله، په دې برخه کې پسینه د طالبانو د مشر او د اوسنې چارواکو د نورو غړو لخوا د عامه څرګندونو پر بنسټ ولاړ دی.

د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې په ۱۵ نېټه کله چې طالبان د افغانستان د کنترول لپاره د کابل خوا ته پرمختګ کاوه د دوي ویاند ذبیح الله مجاهد دغه ټویټ یې خپور کړ: "موږ یو ځل بیا تکرار وو چې د افغانستان اسلامي امارت د هیڅ یو څخه غچ نه اخلي، ټول هغه کسان چې د کابل اداري په دفترونو کې ملکي او یا نظامي دندې درلودل عفو شوي او خوندي دي." [۴]

د اګست د میاشتې په ۱۷ نېټه دغه بیان د انعام الله سمنګانې د اوسنې چارواکو د کلتوري کمیسیون د یو غړی له خوا د افغانستان د ملی خپرندوي سره په یوه تلویزیوني مرکه کې بیا تکرار شو: "د افغانستان اسلامی امارت په بشپړ ویاړ، صداقت او یوالې سره په ټول افغانستان کې عمومي عفو اعلان کړی دی په ځانګړې ډول هغو مخالفینو ته کوم چې په تېرو کلونو کې او په تېرو نږدې وختونو کې تېرې او د تېرېکوونکو ملاتړ یې کړی دي." [۵]

[۱] د "عمومي بخښنې" اصطلاح لکه څنګه چې د اوسني چارواکو لخوا کارول کیږي د بخښنې له مفهوم څخه توپیر لري لکه څنګه چې د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې پوه شوو. پداسې حال کې چې د اوسني چارواکو لخوا د بخښنې د دائرې په اړه کوم لیکلي توضیحات ندي ورکړل شوي، تر دې دمه د دوی عامه نظرونه ښیي چې "عمومي بخښنه" د پخوانیو دولتي چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړو لپاره د خوندیتوب پراخ تضمین ته اشاره کوي.
[۲] له دې وروسته، د "پخواني دولتي چارواکو" اصطلاح د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پخواني حکومت چارواکو او کارمندانو ته اشاره کوي.
[۳] افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه (ANDSF) یوه چترۍ اصطلاح ده چې د افغانستان د پخواني حکومت امنیتي ځواکونو ته د راجع کولو لپاره کارول کیږي او پدې کې شامل دي: افغان سرحدي ځواک، افغان محلي پولیس، افغان ملي اردو، افغان هوایي ځواک، افغان ملي پولیس، د افغانستان ملي ملکي نظم ځواک، افغان ځانګړي ځواکونه، افغان ځمکني پوځ (د افغان ملي اردو - سیمه ایز ځواک په نوم هم یادیږي)، او د ملي امنیت ریاست.
[۴] ذبیح الله مجاهد، ټویټر، ۱۵ اګست۲۰۲۱ ساعت ۱۲:۲۷ غرمه. په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی:
(پښتو) Zabihullah (..ذبـــــیح الله م.) [@Zabehulah_M33], Twitter, 15 August 2021, 12:27 pm. (Pashto)
[۵] انعام الله سمنګانې د هغې مودې راپدیخوا د اوسنې چارواکو د حکومت د معلوماتو او رسنیو د مرکز د رئیس په توګه ټاکل شوی دی.

---

**۱** د سولې پر وړاندې خنډونه: په افغانستان کې د پخواني حکومت د چارواکو او د پخواني افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو پر ضد د بشري حقونو سرغړوني: ۲۰۲۱ آګسټ ۱۵ - ۲۰۲۳ جون ۳۰

ذبیح الله مجاهد لږ وروسته په همدي ورځ د یو مطبوعاتي کنفرانس له لاري په تکرار سره وویل چې اوسنۍ چارواکې "عفو کړي دي... ټول هغه کسان چې زموږ پر خلاف جګړه کړی ده." [۶]

انعام الله سمنګاني د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې په ۱۸ نېټه په یو بل بیان کې وویل چې د طالبانو د مشر مولوي هبة الله آخندزاده د فرمان پر بنسټ: [۷] "ټول سیاسي بندیان باید خوښي کړاي شي. سر له سبا څخه د ولایاتو والیان باید ټول لوړ پوړي او کوچنۍ سیاسي بندیان پرته له کوم شرط او ملحوظه څخه خوښي او خپلو کورنیو ته وسپاري."

د دغو لومړنیو اعلانونو راپدېخوا د اوسنۍ نظام ستر مسؤلین په رسنیو کې د تبصرو پر مهال، د خپل ټولنیزو شبکو د پاڼو له لاري او د یو شمېر عامه غونډو پر مهال، د لاندنیو غونډو په ګډون، خپل چارواکې یې هڅه ولي دي چې د عمومي بخښنې درناوي وکړي:

- د ۲۰۲۱ کال د دسمبر د میاشتې په ۲۹ نېټه د طالبانو مشر په کندهار کې د اوسنۍ نظام د چارواکو سره په یوه غونډه کې دوي ته ۱۸ توصیي وړاندي کړ چې لومړي توصیه یې داسې و: "د عمومي بخښنې درناوي وکړئ، د تېر نظام کارکوونکو ته د دوي د تېرو جرمونو په خاطر سزا مه ورکوئ." [۸]
- د ۲۰۲۲ کال د مارچ د میاشتې په ۳۰ نېټه د اوسنۍ نظام د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې د اوسنۍ نظام د کورنیو چارو وزیر سراج الدین حقانۍ د خوست، پکتیا او پکتیکا په ولایتونو د قومونو د مشرانو سره د غونډې پر مهال دوي ته وویل: "د افغانستان اسلامي امارت نه غواړي چې د هیڅ یو کس څخه انتقام واخلي او د دوي څخه وغوښتل چې ټول هغه کسان چې د افغانستان څخه تښتېدلې دي، بلنه ورکړي چې بېرته هېواد ته راستون شي." [۹]
- د ۲۰۲۲ کال د اپریل د میاشتې په ۲۹ نېټه د طالبانو مشر د کوچنۍ اختر په مناسبت یو پیغام خپور کړ چې په هغه کې وویل شوي و"د افغانستان اسلامي امارت خپل ټول مخالفینو ته عمومي عفو کړي او هغه یې په عمل کې پلي کړی دی... خو که څوک وغواړي چې د دغې بخښنې څخه اطاعت ونکړي او هڅه وکړي چې په هېواد کې یوه جګړې پیل کړي، نو دوي د یو کلک غبرګون سره به مخ شي." [۱۰]
- د ۲۰۲۲ کال په مې میاشت کې، د طالبانو مهم غړي او د افغانستان د پخوانیو چارواکو او سیاسي شخصیتونو سره د خبرو اترو د کمیسیون چارواکي انس حقاني د راپور له مخې د خوست ولایت په صبري ولسوالۍ [۱۱] کې په یوه غونډه کې څرګندونې وکړې او له امنیتي ځواکونو یې وغوښتل چې د طالبانو د مشر لخوا اعلان شوي عمومي بښنې ته درناوی وکړې. [۱۲]
- د ۲۰۲۲ کال د جولای د میاشتي په ۸ نېټه انس حقاني د یو مطبوعاتي مرکې پر مهال وویل:"هو، عمومي عفو پر ټولو باندي پلي کیږي، پرته له کوم استثناء څخه، د وسله والو مخالفینو په ګډون... د اسلامي امارت مشرتابه د عمومي بخښنې په اړوند ډیر جدي دي. هر هغه شخص چې د عمومي بخښنې څخه سرغړونه وکړي د هغه پر خلاف جدي اقدام به ترسره شي. هغوي د عدلي تعقیب لاندي به ونیول شي او شدیده سزا به ورکړ شي. امیر المومنین هدایت ورکړي چې نظامي محکمه رامنځته شي. که چېري تاسې د غیرعادلانه ځورونې مثالونو څخه خبر یاست، هېله ده موږ ته د هغو په اړوند راپور ورکړئ. د تېر حکومت د چارواکو پر خلاف باید هیڅ ډول غچ او انتقام شتون ونلري." [۱۳]

اوسنۍ چارواکې د عمومي بخښنې څخه د سرغړونې راپورونه رد کړي او ویلې دي،

[۶] الجزیره، په کابل کې د طالبانو د لومړي خبري کنفرانس نقل شوي متن. .https://www.aljazeera.com/news/2021/8/17/transcript-of-talibans-first-press-conference-in-kabul

[۷] انعام الله سمنګانی [@HabibiSamangani]، تویتر، د ۲۰۲۱ کال د اګست ۱۸مې د ماښام په ۷.۴۶ دقیقو باندې خپور شوی. په دې لینک د لاسرسی وړ دی: (https://twitter.com/HabibiSamangani/status/1428012863420047369?s=20 (Dari.

[۸] د افغانستان ملي راډیو تلویزیون، پښتو، تویتر، ۳۰ دسمبر ۲۰۲۱، ساعت ۱۰:۱۳ د غرمې مخکې، په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی: RTA Pashto [@rtapashto], Twitter, 30 December 2021, 10.13am.

[۹] د کورنیو چارو وزارت – افغانستان، تویتر، ۳۰ مارچ ۲۰۲۲، ۰۳:۱۰ د غرمې وروسته، په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی: Ministry of Interior Affairs-Afghanistan [@moiafghanistan], Twitter, 30 March 2022, 3.1.

[۱۰] ذبیح الله مجاهد، تویتر، ۲۹ اپریل ۲۰۲۲، ساعت ۰۹:۰۰ د غرمې نه مخکې، په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی: (پښتو). Zabihullah (..ذبـــیح الله م.) (@Zabehulah_M33], Twitter, 29 April 2022, 9:00 am. (Pashto.

[۱۱] له بهر څخه د افغانانو د راستنیدو د هڅولو لپاره د اوسنۍ چارواکو لخوا جوړ شوی کمیسیون. د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې ته مراجعه وکړئ، د افغانستان وضعیت او په نړیواله سوله او امنیت د هغې اغیزې؛ د عمومي منشي راپور، ۱۴ سپتمبر ۲۰۲۲، [A/77/340-S/2022/692]، پارا. [۷] .

[۱۲] Tolo News, “Haqqani in Khost Again Calls for Respect of General Amnesty”, 4 May 2022.

[۱۳] شپیګل انټرنشنل، تاسې د مستنطق په ډول پوښتنې کوئ، ۸ جولای ۲۰۲۲. په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی: Spiegel International, “"You Ask Questions Like an Investigator", 8 July 2022.

که چېرې دا ډول سرغړوني ترسره شوي وي، هغه د شخصي دښمنیو او غچ پر بنسټ تر سره شوي دي، چې دا عمل، د دا ډول اقدام لپاره د رسمي امر، خلاف ګڼل کیږي.

- د ملګرو ملتونو د عمومي منشي راپور، وضعیت په افغانستان کې او پر نړیواله سوله او امنیت باندی د هغه اغیزي تر عنوان لاندي چې د ۲۰۲۲ کال د جنوري د میاشتې په ۲۸ نېټه خپور شوي، په غبرګون کې د اوسني چارواکو ویاند، ذبیح الله مجاهد دا ډول ټویټ کړي: "د ملګرو ملتونو د عمومي منشي له خوا معلومات چې د پخواني حکومت سل تنه چارواکې، ځواک ته د اسلامي امارت د رارسیدلو وروسته وژل شوي دي، نا سم دی." د عمومي بخښنې وروسته هیڅ چاته اجازه ندی ورکړ شوی چې کوم بل کس ته ضرر ورسوي، که چېرې د شخصي غچ له امله کومه پېښه ترسره شوي وي، موږ تحقیق ترسره کړي او مجریانو ته سزا ورکړ شوی ده." [۱۴]
- د بی بی سی سره په مرکه کې، انعام الله سمنګانی هم دا ډول تورنه رد کړ، او ویل چې:"دا ممکنه نه ده چې د شخصي دښمنیو پر بنسټ او یا د غچ اخیستلو په ډول وژني، پېښې ترسره شي. د افغانستان اسلامي امارت د دا ډول پېښو پر ضد کلک غبرګون ښودلي او د صفوفو د تصفیې کمیسیون [۱۵] او نور قضایي ارګانونه دا ډول ګامونه اخیستې دي چې صفوف د دا ډول کسانو څخه پاک کړي، دوي تر تحقیق لاندي ونیسي و په تدریج سره د دا ډول پېښو څخه مخنیوی وکړي. [۱۶]

ورته بیانات د نیویارک ټایمز [۱۷] او د بشري حقونو د څار [۱۸] د راپورونو په غبرګون کې هم ورکړ شوي دي.

## حقوقي چوکاټ

### نړیوال بشردوستانه قانون

نړیوال بشردوستانه قانون په غیرنړیوال وسله واله جګړه کې، د دښمنیو د پای ته رسیدلو پر مهال، د عمومي عفوکولو او د هغه د حیطې په اړوند خپل قواعد لري. یوناما لا د وخته، په افغانستان کې د پخواني حکومت د ملاتړ ځواکونو (افغان ملي ځواکونه چې د نړیوالو ځواکونو له خوا یې ملاتړ کیده) او طالبانو تر منځ د جګړې په ګډون، په افغانستان کې د یو شمېر غیرنړیوال وسله والې جګړې شتون تایید کړي دی چې د نړیوال بشردوستانه قانون تابع کیږي.[۱۹] د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې په ۱۵ نېټه د طالبانو لخوا د افغانستان نیول او د افغانستان پخواني حکومت او د هغه د پوځي ځواک له منځه تلل او د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې په ۳۱ نېټه د نړیوال پوځي ځواکونو وتل، د طالبانو او د افغانستان پخواني حکومت تر منځ د دښمنیو پایله څرګنده وي.

د غیرنړیوال وسله واله جګړی په اړوند د ژنو د ۱۹۴۹ کال د اګست ۱۲امه د کوانسیونونو د دوییم اضافي پروتوکول، چې د افغانستان لخوا تصویب شوی، ۶(۵) ماده داسي صراحت لري:

- "د دښمنیو د پای ته رسیدو پر مهال، کوم چارواکې چې ځواک په لاس کې لري، باید هڅه وکړي چې ټولو هغو کسانو ته چې په وسله واله جګړه کې برخه اخیستې دي، یا هغو کسانو ته چې د وسله والې جګړې اړوند لاملونو په خاطر د ځان د خپلواکې څخه محروم شوي دي، پرته له دې ملحوظه چې دوي بندیان شوي دي او یا په توقیف کې دي، په ممکنه پراخه پیمانه عمومي بخښنه وکړي." [۲۰]

[۱۴] ذبیح الله مجاهد، تویټر، ۳۱ جنوري ۲۰۲۲، ۰۲:۲۳ د غرمې وروسته. په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی: (پشتو) Zabihullah (..ذبــــیح الله م.) [@Zabehulah_M33], Twitter, 31 January 2022, 2:23 pm. (Pashto).

[۱۵] د طالبانو د صفوفو د تصفیې کمیسیون د سلوک مقرره د عمومي عفوې په اړوند څه نه وایي. خو داسې ښکاري چې وړاندیز کوي چې هغه کسان کوم چې د پخواني نظام د حکومت پلوو ځواکونو سره تړوا درلود، چې د اربکې، افغان ځایي پولیس او ولسي پاڅون کوونکو سره تړاو درلودل باید د اوسني چارواکو د وسله والو ځواکونو د صفوفو څخه وایستل شي، او وایي چې د صفوفو د تصفیی کمیسیون د دا ډول کسانو په اړوند به دقیق او کره معلومات را ټول او هغوي د اړوند ارګان مشر ته معرف کومي چې د دوي د برطرفه کولو لپاره اقدام وکړي، [د اسلامي ملي پوځ د صفوفو د تصفیې د کمیسیون د مقرري ۷ ماده].

[۱۶] انعام الله سمنګاني تویټر، ۱ فبروري ۲۰۲۲ ۰۸:۲۹ دغرمې مخکې. په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی: (دری)Inamullah Samangani [@HabibiSamangani], Twitter, 1 February 2022, 8.59am. (Dari).

[۱۷] ذبیح الله مجاهد تویټر، ۱۳ اپریل ۲۰۲۲، ۰۷:۵۳ ماښام، په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی: (پشتو)Zabihullah (..ذبــــیح الله م.) [@Zabehulah_M33], Twitter, 13 April 2022, 7:53 pm. (Pashto).

[۱۸] Zabihullah (.ذبیح الله مجاهد تویټر، ۱۳ سپتمبر ۲۰۲۱، ساعت ۰۹:۲۹ د غرمې مخکې. په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی: (پشتو) Zabihullah (..ذبــــیح الله م.) [@Zabehulah_M33], Twitter, 13 September 2021, 9:29 pm. (Pashto).

[۱۹] یوناما/ د بشري حقونو په اړوند د عالی کمشنر دفتر، افغانستان: په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو ساتنه، ۲۰۲۰ کالنی راپور، فبروري ۲۰۲۱ کال، ۹۷ مخ.

[۲۰] د سره صلیب نړیواله کمېټه (أي سي أر سي) د ژنو د کنوانسیونو الحاقي پروتوکول ۱۲ اګست ۱۹۴۹، د غیر نړیوال وسله واله شخړو کې د قربانیانو د خوندیتوب په اړوند (دوییم پروتوکول) ۸ جون ۱۹۷۷1125 5)UNTS 60, Art. 6).

پداسې حال کې چې په نړیوال قانون کې عمومي بخښنې لپاره هیڅ کوم تعریف شتون نلري، د سره صلیب نړیوالې کمیټې ویلي چې دغه اصطلاح په لاندي ډول سره درک کیداي شي: "چېرته چې یو رسمي مقننه یا اجرایوي عمل چې د یو شخص، یوې ډلې یا طبقې جرمي تحقیق یا محاکمه او/یا ځینې جرمونه چې په احتمالي ډول په تېر وخت کې ترسره شوي دي، منع کړاي شي، او هر ډول سزاګانې ملغی شي."[۲۱] نو ځکه دا ډول یو عمومي عفو کولاي شي په سیمه کې په وسله واله جګړه کې د دوی د ګډون په تړاو د پخواني حکومتي چارواکو او د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو غړو جنايي تحقیقات او یا عدلي تعقیب مخه ونیسي. په ورته حال کې په دې اړوند یو مهم استثنا شتون لري: د نړیوال سره صلیب کمېټې ۱۵۹ قاعده، د عرفي نړیوال بشردوستانه قانون مطالعه وايي چې هغه کسان چې په جنګي جرمونو تورن، محکوم شوي او یا د جنګې جرمونو په خاطر مجازات شوي دي، باید د دا ډول عمومي بخښنې څخه وایستل شي،[۲۲] ځکه چې دا د هېوادونو د ژمنو سره مطابقت نکوي چې دوي باید د جنګې جرمونو ترسره کوونکې تر تحقیق لاندي به ونیسي او چېرته چې لازمه وي عدلي تعقیب پلي کړي. په ۲۰۱۴ کال کې د بلفاست د عمومي بخښنې او حسابورکونې لارښودونې اضافه کوي چې هغه بخښنې کوم چې د څېړونو مخه نیسي او د درانه جرمونو مسؤل کسانو ته معافیت ډاډمنوي، نامشروع ګڼل کیږي، او یادونه کوي چې د نړیوال قانون پر بنسټ هېوادونه د هغو کسانو د څېړنې او عدلي تعقیب باندې ملزم دي کوم چې د نړیوال جرمونو او د بشري حقونو څخه د سترو سرغړونو مسؤلیت لري.[۲۳]

## د بشري حقونو نړیوال قانون

د پخواني حکومت چارواکي او د پخواني افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي لکه د نور ټول افغان وګړو په څېر د ورته حقونو او خونديتوبونو مستحق دي. افغانستان د یو شمېر نړیوال بشري حقونو معاهدو او کنوانسیونونو غړي هېواد دي چې د محاکمې پرته وژنې، په خپل سر نیوني، توقیفول، شکنجه کول او ناوړه چلند منع کوي.[۲۴]

د نړیوال قانون له مخې، دولتونه د بشري حقونو د درناوي، ساتنې او پوره کولو مکلفیت لري. پدې کې د قانون پلي کولو مکلفیتونه شامل دي، د بشري حقونو د سرغړونو او ناوړه ګټه اخیستنه د مخنیوي لپاره اداري او نور مناسب اقدامات، د ادعا شویو سرغړونو په اغیزمنه توګه، سمدستي، بشپړ، خپلواکه او بې طرفه توګه وڅیړل شي او که مناسبه وي، د مسؤلینو په وړاندې اقدام وکړي.[۲۵]

د بشري حقونو د سرغړونې د نه ترسره کولو د مسؤلیت برسېره، غړي هېوادونه هڅونکې دندې لري تر څو د نړیوال بشري حقونو د معاهدو او کنوانسیونونو کې تصریح شوي حقونه،[۲۶] ډاډمن کړي، په هغو کنوانسیونونو کې چې دوي د غړي هېواد ګڼل کیږي – د ژوند کولو،

[۲۱] د سره صلیب نړیواله کمېټه، د نړیوال عمومي عفوي قانون: موخي او حیطه، (۴ اکتوبر ۲۰۱۷) په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی: International Committee on the Red Cross, "Amnesties and International Humanitarian Law: Purpose and Scope", (4 October 2017).

[۲۲]مالیندر، ل، او حادن، تی. (۲۰۱۳)، د عمومي عفوي او حسابورکوني په اړوند د بلفاست لارښووني. بلفاست، شمالی آیرلند: د انتقالي عدالت انستیتیوت، د اولیستر پوهنتون، لارښود ۴(ب). په دغه سایټ کې د لاسرسي وړ دی: Mallinder, L., & Hadden, T. (2013) The Belfast guidelines on amnesty and accountability. Belfast, Northern Ireland: Transitional Justice Institute, University of Ulster, Guideline 4(b).

[۲۳] د سره صلیب نړیواله کمېټه، د نړیوال بشردوستانه عرفي قانون، ۲۰۰۵، لومړي ټوک: قواعد، ۱۵۹ قاعده.

[۲۴] د شکنجې او نورو ظالمانه غیر انساني یا سپکاوي چلند یا مجازاتو پروړاندې کنوانسیون (د اپریل ۱۹۸۷ تصویب شوی)، د شکنجې پروړاندې د کنوانسیون اختیاري پروتوکول (د افغانستان لخوا الحاق ۱۷ اپریل ۲۰۱۸)، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق (د افغانستان لخوا الحاق د جنوري ۲۴ ۱۹۸۳) ، د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون (د مارچ په ۵۲۰۰۳ تصویب شوی)، د توکمیز تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون (د افغانستان لخوا د ۱۹۸۳ کال د جولای په ۶)، د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو نړیوال میثاق (لاس رسی) د افغانستان لخوا ۲۴ جنوري ۱۹۸۳)، د ماشوم د حقونو کنوانسیون (د ۲۸ مارچ ۱۹۹۴ تصویب شوی)، په وسله واله جګړه کې د ماشومانو د ښکیلتیا په اړه د ماشوم د حقونو کنوانسیون ته اختیاري پروتوکول (د افغانستان لخوا د ۲۴ سپتمبر ۲۰۰۳)، اختیاري د ماشومانو د خرڅلاو په اړه د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون پروتوکول د ماشومانو فحشا او د ماشومانو فحشا (د افغانستان لخوا الس رسی ۱۹ سپتمبر ۲۰۰۲)، د معلولیت لرونکو اشخاصو د حقونو کنوانسیون (د افغانستان لخوا د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر ۱۸).

[۲۵] د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې، د بشري حقونو د نړیوال قانون او د نړیوال بشردوستانه قانون څخه د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د درملنې او جبران د حق په اړه اساسي اصول او لارښوونې: پریکړه لیک / د عمومي اسامبلې لخوا تصویب شوی، ۲۱ مارچ ۲۰۰۶، دوهمه برخه، د مکلفیت اړوند موضوع.


[۲۶] د سیاسي او مدنې نړیوال کنوانسیون (۱۹۶۶)، ۲ (۱) ماده.

شخصي آزادي او د شکنجې او ناوړه چلند د حقونو په ګډون، د بشري حقونو کمېټه د ژوند کولو د حق په اړوند ویلي چې، غړي هېوادونه:

- "... اړین معقول مکلفیت لري چې د ملکي کسانو او نهادونو، کوم چې د دوی کړنې دولت ته نه منسوبیږي، له خوا ژوند ته په معقول ډول د اټکل وړ ګواښونو په غبرګون کې د اړین مثبت تدبیرونو په نیولو سره، پر دوی باندې غیر متناسب فشار تحمیل نکړي.[27] نو ځکه، غړي هېوادونه مکلفیت لري چې  د مجرمینو او سازمان شویو جرمونو یا ملیشه ډلو، د وسله والو او تروریستي ډلو په ګډون، لخوا د وژنې او یا وژل کیدو د معقول او اټکل وړ ګواښونو په وړاندې د انفرادي کسانو د ساتنې لپاره مناسب او اړین مخنیونکي تدبیرونه تر لاس لاندې ونیسي." [28]

## د پخواني حکومت چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو په وړاندې د بشري حقونو سرغړوني

یوناما د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ او د ۲۰۲۳ کال د جون تر ۳۰ پورې د طالبانو د واکمنۍ تر منځ د پخوانیو حکومتي چارواکو او د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو د غړو په وړاندې د بشري حقونو لږ تر لږه ۸۰۰ سرغړونې مستند کړي دي. دغه راپور د محاکمې پرته[29] وژنې، په خپل سر نیونې، توقیفول، شکنجه کول، ناوړه چلند او ګواښنې باندې تمرکز لرئ کوم چې د پخواني حکومت چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي تجربه کړي دي. قضیې یوازې هغه وخت په عمومي شمېر کې شامل شوي دي چې یوناما د باور وړ راپورونه تر لاسه کړی چې د اوسني چارواکو غړی او یا غړي په پېښو کې مسؤل وو.




[۲۷] په دغه مکلفیت یوه دنده شامله ده چې د ژوند د حق څخه د سرغړونو د مخنیوي لپاره اقدامات ترسره شي کوم چې په معقول ډول د وړاندوینې وړ دي، د هغو اشخاصو د ترسره شویو کړنو په ګډون چې دولت ته نه منسوبیږي. د نړیوال دودیز قانون پر بنسټ: "د یو شخص یا د یوی ډلې د افرادو کړنې باید د نړیوال قانون له مخې د یو دولت عمل وګڼل شي که چیرې هغه شخص یا د یوې ډلې افراد په حقیقت کې د هغه په هدایاتو عمل کوي، یا د هغه دولت تر لارښوونې یا کنټرول لاندې عمل کوي. " ILC، 'د نړیوالو ناسمو اعمالو لپاره د دولتونو د مسؤلیت په اړه د مادو مسوده، د تبصرو سره' (نومبر ۲۰۰۱) ضمیمه نمبر ۱۰ د ملګرو ملتونو سند ۸ ،((A/56/10 ماده.
[۲۸] د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمېټه، ۳۶ عمومي تبصره، ۶ ماده، (د ژوند کولو حق) ۳ سپتمبر ۲۰۱۹، [21 ,CCPR/C/GC/35].
[۲۹] "د بشري حقونو تېري" په دغه برخه کې د محاکمې پرته وژنې، په خپل سر نیونې او توقیف، جبري ورکېدل، شکنجه، ناوړه چلند په اړوند د باور وړ راپورونو ته ځانګړي شوي.

د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې څخه بیا د ۲۰۲۳ کال د جون  د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې د افغان ملي پوځ غړي د بشري حقونو د زیاتو سرغړونو، ورپسې د افغان ملي پولیس غړي (دواړه افغان ملي پولیس او افغان ځایي پولیس) او بیا د ملي امنیت عمومي ریاست چارواکي د ګواښونو سره مخ وو.

د پخواني حکومت چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو په وړاندې د بشري حقونو د تېرېدو قضیې په ټول ۳۴ ولایتونو کې ثبت شوي دي؛ چې د تېرېدو زیات شمېر قضیې د کابل، کندهار او مزارشریف په ولایتونو کې ثبت شوي دي. په داسې حال کې چې پورته یاد شوي ډلې په ټولو ولایتونو کې د ګواښ سره مخ وو، خو داسې ښکاري چې په ځینو سیمو کې زیات شمېر کسان په نښه شوي دي:

- یوناما د کندهار په ولایت د افغان ملي پوځ د غړو په وړاندې لږ تر لږه ۳۳ د بشري حقونو د سرغړونې قضیې ثبت کړي چې په ملي کچه د افغان ملي پوځ د غړو په وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو د ټولو قضیو یوه پر څلورمه برخه جوړوي.

- یوناما د خوست په ولایت کې، د محاکمې پرته وژنې، په خپل سر نیونې او توقیفونې، شکنجه او ناوړه چلند په ګډون، لږ تر لږه ۱۱ د بشري حقونو د ترسره شویو تېریو قضیې، د خوست ولایت د ساتنې د ځواک[۳۰] د پخواني غړو په وړاندې ثبت کړي دي.

د تېریو د قضیو زیاتره برخه د لومړیو څلورو میاشتو په موده کې (د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې څخه بیا د ۲۰۲۱ کال د دسمبر د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې) ترسره شوي چې یوناما د پخواني حکومت چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو نږدې نیمایي پرته له محاکمې وژنې قضیې په دغه موده کې ثبت کړي دي. سره له دې، د بشري حقونو د تېرې قضیې د لومړنې دورې څخه وروسته هم دوام درلود چې د ۲۰۲۲ کال د جنوري د میاشتې د لومړي نېټې څخه بیا د دسمبر د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې ۷۰ د محاکمې څخه پرته وژنې قضیې ثبت کړي دي.

## د محاکمې څخه پرته وژنې

- طالبان زما ورور واژه... هغه د کورنیو چارو په وزارت کې [پخواني] پولیس افسر و ...، لس ورځې وروسته چې طالبان قدرت تر لاسه کړ، کله چې دی بېرته کابل ته را روان و، طالبان دی د شخصي موټر څخه ښکته کړ... د هغه مبایل تلیفون یې وکتل او د هغه عکس یې د کورنیو چارو وزارت د نورو چارواکو سره ولیدل. دی دوي ته وویل چې دی زده کوونکی و. خو طالبان د هغه دلیل ته اعتنا ونکړ. طالبان هغه له ځانه سر بوتلل. وروسته له دریو ورځو د هغه مړی وموندل شو. ځایي خلک زما پلار ته د هغه د جسد ځای وښودل. وروسته زما پلا د هغه جسد ولایت ته انتقال کړ او موږ هغه خاورې ته وسپارل. د هغه پر بدن باندې د زیات شمېر ګولیو نښې وې. همدارنګه سپږان د هغه د بدن ځینې برخې خوړلې وې." [۳۱]

یوناما، د هغې مودې څخه چې طالبان په افغانستان کې واک تر لاسه کړی دی، د پخواني حکومت چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو د پرته له محاکمې لږ تر لږه ۲۱۸ د وژنې قضیې ثبت کړي دي. د تر ټولو زیات په نښه شویو ډلو کې د پخواني حکومت د افغان ملي پوځ غړي، د افغان ملي پولیس غړي، د ملي امنیت ریاست چارواکې او افغان ځایي پولیس غړي وو.په زیاتو قضیو کې شخص د اوسني چارواکو د امنیتي ځواکونو له خوا، مخکې لدې چې وژل شي، د لنډې مودې لپاره توقیف شوی دی. ځینې نور توقیف ځایونو ته استول شوي دي او په توقیف کې وژل شوي دي، نور کسان یو نامعلوم ځای ته وړل شوي او وژل شوي دي، د دوي جسدونه یا له منځه وړل شوي او یا د دوي د کورنیو غړو ته ورسپارل شوي دي.

د ساری په ډول:

- د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د میاشتې په ۹ نېټه د غور په ولایت کې د اوسنې چارواکو د پولیس افسران د ملي امنیت د ریاست د یو پخواني کارکوونکې کور ته ورغلل او وویل چې دوي د ده د ګرفتاري امر له ځان سره لري. هغوي دغه کس د هغه د کور څخه

[۳۰] د خوست محافظت ځواک د خوست په ولایت کې میشت یوه حکومت پلوه وسله واله ډله وه.
[۳۱] د یوناما د بشري حقونو څانګې ته د قرباني شخص د خپلوانو بیان.

ګرفتار کړ او دوه ورځې وروسته د هغه جسد وموندل شو.

- د ۲۰۲۲ کال د نومبر د میاشتې په ۱۳ نېټه په کندهار کې د پخواني افغان ملي پولیس د یو افسر جسد چې سر یې پرېکړ شوي و ځای خلکو و موندل. هغه د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر د میاشتې په ۱۷ نېټه د اوسني چارواکو د امنیتي پرسونل له خوا نیول شوي و.

ځینې وژنې په عامو ځایونو کې تر سره شوي دي. دساری په ډول:

- د ۲۰۲۲ کال د نومبر د میاشتې په ۳۰ نېټه د فاریاب ولایت کې د اوسني چارواکو د امنیتي ځواک یو غړي د افغان ځایي پولیس یو پخواني افسر یې هغه مهال وواژه چې هغه د ماښام د ډوډۍ لپاره د خپل خپلوان کور خوا روان و. د راپورونو پر بنسټ قرباني شخص په تېره وسله واله جګړې کې د یو کمین پر مهال د مجرم شخص ورور وژلی و.
- د ۲۰۲۳ کال د می په ۱۷ په تخار ولایت کې، امنیتي منسوبینو د ملي اردو یو پخوانی غړی چې له خپل کروندې څخه کور ته روان و، ډزې وکړې او وواژه.

د دا ډول وژنو په زیاتو پېښو کې یوناما ندی توانیدلې تثبیت کړي چې د اوسني چارواکو کومه مشخصه اداره مسؤل و.

## اجباري ورک کېدنې

یوناما د پخوانیو حکومتي چارواکو او د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د غړو د جبري ورکیدو لږ تر لږه ۱۴ موارد مستند کړي دي.

په هرات ولایت کې د ښځو د زندان پخوانۍ رئیسه عالیه عزیزي[۳۲] د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر د ۲ نېټې وروسته بېرته خپل کور ته نده ستانه شوې او د ۲۰۲۳ کال د اګست  تر میاشتې پورې د هغې ځای ځایګی لا تر اوسه معلوم نه شو. د راپورونو له مخې د هغې د ورک کېدو په اړه د پلټنو د پیلولو سره سره، بر حاله چارواکو لا تر اوسه د هغې د ځای ځایګي په اړه په ښکاره کوم معلومات نه دي خپاره کړي.

یوناما دغه راز داسې قضیې ثبتې کړې چېرې چې یو کس ورک کېږي او بیا وروسته یې جسد پیدا کېږي یا یې جسد د برحاله چارواکو له خوا د کورنیو غړو ته سپارل کېږي او د شخص د ورک کېدنې یا د مړینې په اړه توضیحات نه وړاندې کېږي. د مثال په ډول:

- د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ په میاشت کې د ملي اردو د یوه پخواني غړي مړی چې شاوخوا درې میاشتې وړاندې په کابل کې له خپل کور څخه نیول شوی و، د اوسنې چارواکو له خوا د هغه د کورنۍ غړو ته وسپارل شو. د هغه کورنۍ له هغه سره هیڅ اړیکه نه درلوده او نه هم د هغه د نیولو وروسته د هغه ځای په اړه خبر شوي وو.
- د ۲۰۲۳کال د جنورۍ په ۱۳ مه نیټه، په پکتیا ولایت کې، امنیتي ځواکونو د ملي اردو یو پخوانی غړی ونیول. د هغه کورنۍ د هغه له نیول کیدو وروسته له هغه سره هیڅ اړیکه نه درلوده، سره له دې چې د توقیف ډیری ځایونو څخه لیدنه وکړه. د ۲۰۲۳ کال د مارچ په ۲۸، د هغه مړی بیرته د هغه کورنۍ ته وسپارل شو، چې د شکنجې نښې یې درلودې.

## خپلسرې نیونې او توقیفونه

د طالبانو له راتګ راهیسې یوناما د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو د غړو د خپلسرو نیونو او توقیفونو له ۴۲۴ څخه زیاتې قضیې مستندې کړي.[۳۳] د اوسني چارواکو لخوا ترسره شوي ډیری نیول او توقیفونه ممکن د پلي شوي قانوني چوکاټ[۳۴] په اړه د وضاحت د نشتوالي له امله خپل سري وګڼل شي، او همدارنګه د افرادو د نیولو د دلیلونه او د دوی په وړاندې د تورونو په اړه د معلوماتو نشتوالی، د هغه وخت اوږدوالی چې خلک د محاکمې څخه مخکې په توقیف کې ساتل کیږي، قانوني مشورې ته د لاسرسي نشتوالی او نور طرزالعمل حقونه چې توقیفیان یې حق لري.

[۳۲] د بخښنې نړیوال سازمان، "افغانستان: طالب چارواکي باید د عالیه عزیزي د ځای په اړه معلومات ورکړي"، ۲۱ جنوري ۲۰۲۲. په لاندني انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ ده: https://www.amnesty.org/en/latest/news/2022/01/afghanistan-taliban-authorities-must-reveal-alia-azizis-whereabouts/.

[۳۳] نیول او توقیف په خپلسري توګه ګڼل کیږي چیرې چې دوی وي: د ملي قوانینو سره سم ندي، ځکه چې دوی په سمه توګه د قانون په اساس نه دي یا د قانون لخوا رامینځته شوي طرزالعملونو سره سم ندي؛ یا په بل ډول په شرایطو کې د نامناسب ، غیر عادلانه ، غیر معقول ، یا غیر ضروري کیدو په معنی کې خپلسري. د نیول یا توقیف خپلسري د شرایطو د انفرادي ارزونې پراساس ده. څرنګه چې د خپلسرۍ د معیارونو بشپړ لیست شتون نلري، د خپل سري توقیف په اړه د کاري ډلې په نظر "خپلواکي باید د ورکړل شوي توقیف د ټولو اړوندو شرایطو په رڼا کې و ارزول شي." د بیلګې په توګه، که چیرې یو شخص د دې هدف سره توقیف شي چې د دوی د بشري حقونو څخه انکار وکړي (لکه د سیاسي نظرونو څرګندونه یا سوله ایز لاریون) یا دا د تبعیض په اساس وي. وګورئ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمیسیون، د خپل سري توقیف په اړه کاري ډله، د غوراوی شمیره 7، 1 دسمبر 2004، E/CN.4/2005/6، پارا. 54(ب).

[۳۴] اوسنی چارواکو د افغانستان د اسلامي جمهوریت له خوا تصویب شوي قوانینو ته بیاکتنه پیل کړې ترڅو د شریعت او افغاني دودونو سره د دوی د موافقت ارزونه وکړي. په اوس وخت کې، د بیاکتنې پایلې - او له همدې امله، د افغانستان اسلامي جمهوریت لخوا تصویب شوي قوانینو قانوني دریځ - نامعلوم پاتې دي. برسېره پر دې، د طالبانو مشر او نورو رسمي چارواکو بېلابېلې لارښوونې صادرې کړې، په داسې حال کې چې په مکرر ډول یې ویلي چې شریعت په افغانستان کې د تطبیق وړ قانوني چوکاټ دی.

لکه څرنګه چې یادونه شوې، په یو شمېر قضیو کې خپلسرې نیونې او توقیفونې د اشخاصو په صحرایي وژنو تمامې شوې.

یوناما ګڼ شمېر داسې قضیې ثبتې کړي په کومو کې چې د تېر حکومت چارواکي او د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو غړي د نامعلومو تورونو په تړاو له نورو خلکو سره له ارتباط او اړیکې پرته په زندان کې ساتل شوي:

- "ما د استخباراتو له عمومي ریاست سره څو ځله اړیکه ټینګه کړه. بالاخره هغوی ما ته وویل چې ورور دې د استخباراتو په ۴۰ ریاست کې توقیف دی. دوی د هغه کورنۍ ته د هغه د لیدو اجازه ور نه کړه. د تېر حکومت د ړنګېدو تر مخه، *[زما ورور]* د ملي امنیت د ریاست کارمند و.... د طالبانو تر راتګ وروسته، هغه په کابل کې و او څو ځله خپلې دندې ته لاړ او حاضري یې لاسلیک کړې وه. بیا طالبانو هغه ته وویل چې هغه دې تر اطلاع ثاني پورې په کور پاتې شي. هغه د استخباراتو د عمومي ریاست له خوا ونیول شو. زه یې په لامل نه پوهېږم. د استخباراتو عمومي ریاست هم مور ته د هغه اتهام په اړه څه نه دي ویلي. د طالبانو له خوا د عمومي بخښنې تر اعلانولو وروسته هغه په ولایت کې پاتې شو." [۳۵]
- "*[زما خپلوان]* په تېر حکومت کې په *[ولایت]* کې یو پولیس آفسر و... واک ته د طالبانو تر راتګ وروسته، هغه پر کور پاتې شو او په خپل بڼ کې یې کار کاوه او پر خپلې کورنۍ یې پام کاوه. هغه په کور کې و او د ښار بلې برخې ته یې تګ کاوه، خو هغه بېرته خپل کور ته راستون نه شو. د هغه تر ورک کېدو وروسته د هغه د کورنۍ غړو هغه ډېر ولټوه خو هغه یې پیدا نه کړ. ۲۱ ورځې کېږي چې هغه ورک شوی. مور له کورنیو او ملګرو غوښتنه وکړه چې له مور سره د هغه په پیدا کولو کې مرسته وکړي. بالاخره د هغه کورنۍ پر دې پوهه شوه چې هغه د استخباراتو د عمومي ریاست له خوا نیول شوی او د استخباراتو د عمومي ریاست په یوه توقیف ځای کې بندي شوی. زمور د ګاونډیانو یو خپلوان چې د طالبانو د استخباراتو له عمومي ریاست سره کار کوي زمور د خپلو تر نیول کېدو ۱۷ ورځې وروسته دغه معلومات شریک کړل. د نوموړي کورنۍ د هغه د نیول کېدو د لامل په اړه نه پوهېږي، خو ښایي چې هغه له تېر حکومت سره د کاري سابقې د درلودلو په تور نیول شوی وي. مور له هغه سره د لیدنې ډېره هڅه وکړه خو چارواکو د نوموړي کورنۍ ته له هغه سره د لیدو اجازه ور نه کړه. هغه اوس مهال په *[ولایت]* کې د استخباراتو د عمومي ریاست په یوه توقیف ځای کې بندي دی." [۳۶]

د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پخوانیو غړو هم راپور ورکړی چې د توقیف په وخت کې د دوی سره د پخواني نظامي تړاو له امله لفظي ناوړه چلند شوی دی:

- "د پولیسو په قوماندانۍ کې زیات شمېر طالب وسله وال کسان موجود وو. دوه هغو یې زه سپک کړم او ما ته یې سپکې سپورې وکړې. هغوی ما ته وویل: تا له امریکایانو سره د مجاهدینو او افغان وګړو په وژنه کې مرسته کړې. ته یو مرتد یې. ته مسلمان نه یې. ته د امریکایانو سپی یې. امریکایانو خپل ښه ملګري له ځانه سره و ایستل خو د هغوی سپي لا تر اوسه هم دلته پاتې دي. ته به د هغه څه په مقابل کې چې تا په تېر کې د طالبانو په ضد ترسره کړي سزا ووینې. ما هغوی ته وویل چې تېر هېر کړي. طالب مشرانو لا وار د مخه ټولو ته بخښنه کړې. هغه پر ما په غصه و او ما ته یې وویل: مرتده چپ شه." [۳۷]

د یوناما له خوا په یو شمیر مستند شویو قضیو کې، د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پخواني غړي د تیرو امنیتي ځواکونو سره د هغوي د رول په تړاو د اړوندو وسلو په تسلیمولو کې د پاتې راتلو په تور نیول شوي یا توقیف شوي.[۳۸] دا ډول نیول اکثرا د طرزالعمل له حقونو څخه د نورو سرغړونو سره مل وي، د بیلګې په توګه: بد چلند او شکنجه، قانوني مشورې ته د لاسرسي نشتوالی او - د "غیرقانوني وسلو" په اړه د عمومي تورونو سره سره - د افرادو د نیولو د لاملونو په اړه په سمه توګه د معلوماتو ورکولو کې پاتې راغلي او / یا د دوی په وړاندې تورونه.

[۳۵] د یوناما بشري حقونو ځانګې ته د یوه قرباني څرګندونې.
[۳۶] د یوناما بشري حقونو ځانګې ته د یوه قرباني څرګندونې.
[۳۷] د یوناما بشري حقونو ځانګې ته د یوه قرباني څرګندونې.
[۳۸] د اپریل پر ۱ نېټه، د کورنیو چارو برحاله وزارت یوه اعلامیه خپره کړه کومه چې له امنیتي ځواکونو، نظامي پرسونلو او دولتي ملکي کارمندانو د هغوي د وسلو د ثبتولو غوښتنه کوي چې بیا وروسته به هغوي ته د وسلو جواز صادر شي. د کورنیو چارو وزارت – افغانستان [@moiafghanistan] ټویټر پاڼه، ۱ اپریل ۲۰۲۳، د ماسپښین ۱۲:۴۴ بجې، پر راتلونکې ټویټر پاڼه د لاس رسي وړ ده: On 1 April, the de facto Ministry of Interior issued a statement which requires the security forces, military personnel and civil government employees to register their weapons, noting that they would subsequently be issued a weapons licence. Ministry of Interior Affairs- Afghanistan [@moiafghanistan], Twitter, 1 April 2023, 12.44pm.

- "هغوي زه د پولیسو قوماندانۍ رئیس ته راوستم... هغه له ما د بخښنې د هغه لیک غوښتنه وکړه کوم چې ښايي ما د طالبانو له خوا ترلاسه کړی وي. خو ما هغوي ته وویل چې زه یو نظامي سړی نه وم، او دا چې ما د بخښنې دغه لیک له کوم ځا څخه نه دی تر لاسه کړی. هغه بیا پر مخ په څپېړه او په لغتو ووهلم. هغه بیا خپلو وسله والو ته زما د وهلو امر وکړ. یوه یې پایپ را واخیست او ۱۵ وارې یې ووهلم. هغه زه پر ډېرو ووهلم چې سخت درد یې کاوه. د پولیسو قوماندانۍ رئیس ما ته وویل: موږ ته راپور راکړل شوی چې تاسو د اربکیانو[۳۹] قوماندان یاست. له تا سره ۱۲ میله ټوپکان موجود دي. ما د تېرو ۱۵ کلونو لپاره په *[یوه ملکي دولتي ډیپارټمنټ]* کې کار کاوه... ما هغه ته وویل چې هغه کولی شي زما حاضري وګوري." [۴۰]

یوناما همدارنګه داسې قضیې ثبتې کړې چېرې چې د تېر حکومت چارواکي او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي له "ملي مقاومت جبهې" سره د تړاو په تور نیول شوي یا توقیف شوي. په زیاترو دغو مواردو کې پخپله قربانیانو یا د هغوي د کورنیو غړو ویلي چې دغه تورونه ناسم دي او دا چې د هغوي د نیونې اصلي لامل له تېر حکومت او/یا د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو سره د هغوي تړاو ګڼل کېږي. په داسې حال کې چې یوناما دغه ادعاوې نه شي تائیدولی خو د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړو چې له "ملي مقاومت جبهې" سره د تړاو په تور نیول شوي د پام وړ بهیر موجود دی. پر دې سربېره، د ۲۰۲۲ کال د فبروري پر ۲۶ نېټه، د استخباراتو د عمومي ریاست برحاله چارواکو د هلمند ولایت په لښکرګاه ښار کې د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو یوه ۳۶ ډله نیولې او هغوي یې په ولایت کې د برحاله چارواکو د په نښه کولو امنیتي پېښو کې په لاس لرلو تورن کړي.

## شکنجه او ناوړه چلند

د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ مې د راهیسی اوسني چارواکو د امنیتي ځواکونو له خوا په پایپونو، کیبلونو د وهلو ډېلو او شفاهي ګواښونو او تیریو په ګډون د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له خوا د شکنجې او ناوړه چلند ۱۴۴موارد مستند شوي دي.

اشخاصو یوناما ته راپور ورکړی چې هغوي د برحاله چارواکو له خوا له تېر حکومت یا له افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو سره د هغوي د کار کولو په تړاو اعتراف کولو ته یا د وسلو د تسلیمولو اړ ایستلو په پار له شکنجې یا ناوړه چلند سره مخ شوي:

- "په نیمه شپه کې، یو وسله وال شخص توقیف خونې ته داخل شو او زه یې د باندې پیاده رو ته را ویستم چېرې چې د هغه نورو همکارانو زما سترګې رابندې او زما لاسونه یې تر شا وتړل او زه یې پر ځمکه څملوم او د څو دقیقو لپاره یې په پلاستکي کیبل سخت ووهلم په داسې حال کې چې ما چیغې وهلې او له هغوي مې د وهلو لامل پوښته، یوه یې ځواب راکړه، تر هغې به دې وهم ترڅو چې خپل اصلي ځای را ونه ښیې او دا راته و نه وایې چې د چا لپاره کار کوې او په تېر حکومت کې دې څه دنده ترسره کوله." [۴۱]

- "هغه را ته وویل، چې زه پوهېږم چې تا له [ملکي دولتي ډیپارټمنټ] او نورو ادارو سره کار کاوه څو ښځې او نجونې ستا په پروګرام کې د ګډون لپاره وهڅوې. هغه بیا پر مخ څپېړه راکړه او راته یې وویل، ته افغان نه یې. ته مسلمان نه یې. ته یو مرتد یې. ستا د مخ له رنګ څخه معلومېږي چې ته یو ښه شخص نه یې. ما هغه ته وویل چې ما هیڅ غلط کار نه دی کړی. ما د خلکو د پوهاوي د لوړولو په پار کار کړی. هغه بیا بل طالب ته زما د وهلو امر وکړ. هغه بیا زه په لغتو او د ټوپک په کونداغ پر شا ووهلم. هغوي تر هغې زما بدن کش کړ چې بې هوښه شوم. کله چې بېرته په هوښ راغلم، کتل مې چې په یوه کانتینر کې یې اچولی یم. " [۴۲]

[۳۹] "اربکی" یوه اصطلاح وه چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت په دوره کې د حکومت پلوه ملېشو یا افغان محلي پولیسو غړو ته ویل کېده.
[۴۰] د یوناما بشري حقونو څانګې ته د یوه قرباني څرګندونې.
[۴۱] د یوناما بشري حقونو څانګې ته د یوه قرباني څرګندونې.
[۴۲] د یوناما بشري حقونو څانګې ته د یوه قرباني څرګندونې.

## تهدیدونه او ګوڼونې

یوناما د تېر حکومت چارواکو او افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو غړو ته د دواړو نا معلومو اشخاصو او د برحاله چارواکو له لوري د ترسره شويو تهديدونو ګڼ شمېر راپورونه ترلاسه کړي. په ځينو مواردو کې، اشخاصو خبر ورکړی چې دوی د برحاله چارواکو له خوا د تيلفوني اړيکې له لارې تهديد شوي. د مثال په ډول، يوې ښځې او مېره چې دواړه د ملي امنيت پخواني کارمندان دي خبر ورکړی چې هغوی ته د برحاله د استخباراتو د عمومي رياست د کارمندانو له خوا زنګ وهل کېږي او هغوی ګواښي چې که چېرې وسلې او موټر سايکل و نه سپاري و به وژل شي. دوی ويلي چې اوس پټ شوي او څو پله يې خپل موقعيت بدل کړی څو د برحاله چارواکو د غړو له خوا يې د په نښه کېدو مخه ونيسي.

په نورو مواردو کې، چېرې چې مستقيم تهديدونه نه تر سترګو کېږي، اشخاص له تېر حکومت او/يا له امنيتي ځواکونو سره د هغوی د رول درلودلو له امله خپل امنيت ته د خطر پېښېدو انګېرنه کوي. د مثال په ډول، هغوی وايي چې دوی پر دې باور دي چې له تېر حکومت سره د هغوی د اړيکو له امله دوی يا د دوی د کورنۍ غړي د برحاله چارواکو له خوا د تلاشۍ پرمهال په نښه شوي يا ور سره سخت چلند شوی. که څه هم يوناما د سخت چلند ادعاوې نه شي تائيدولی، دغه راپورونه د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو ترمنځ د وېرې يوه پراخه فضا په ډاګه کوي. له کندهار څخه يوه پخواني پوليس آفسر چې د طالبانو له راتګ وروسته يې افغانستان پرې ايښی يوناما ته وويل چې د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ او د ۲۰۲۲ کال د مارچ د لومړيو شپو ورځو ترمنځ يې کور د بر حاله چارواکو له خوا له پولس ځلو څخه زيات تلاشي شوی. هغه په دې باور دی چې بر حاله چارواکي د هغه په لټه کې وو او دغه کار د تکراري تلاشيو لامل شوی.

## دبشري حقونو د سرغړونو لپاره احتساب

هغه څرګند معافيت له کوم سره چې برحاله چارواکي د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو په ضد له بشري حقونو څخه د سرغړونو ترسره کولو ته ادامه ورکوي، د جدي اندېښنې وړ ګڼل کېږي.

اوسنی چارواکو هيڅ ليکلی متن ندی خپور کړی چې د عمومي بخښنې سرغړونو سره د معاملې لپاره طرزالعملونه تنظيم کړي. په داسې حال کې چې تر اوسه د طالبانو د مشر لخوا صادر شوي ځينې فرمانونه د بنديانو د شکنجه کولو يا بد چلند منع کولو ته اشاره کوي، دوی په ښکاره ډول د داسې کړنو په اړه د سمدستي او بې طرفه تحقيقاتو امر نه کوي، پرځای يې په عمومي ډول د مسؤل اشخاصو "سزا" ته اشاره کوي.[۴۳]

زياتره هغه سرغړونې چې په دغه راپور کې ور باندې بحث شوی، د برحاله چارواکو له خوا د ترسره شويو اقداماتو په اړه محدود معلومات شته څو پېښې وڅېړي او له مرتکبينو سره يې حساب ترسره شي. په دغې برخه کې يو څه استثنات هم شته. په ځينو مواردو کې، يوناما د دې راپورونه ترلاسه کړي چې د پېښو هغه تورن مرتکبين چې د تېر حکومت چارواکي او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو غړي يې په نښه کړي، نيول شوي. برحاله چارواکو همدارنګه د مشخصو پېښو د څېړنو په اړه په ښکاره خپل قصد څرګند کړی.

د مثال په ډول، د ۲۰۲۱ کال په دسمبر کې، د کورنيو چارو وزارت برحاله وياند رسنيو ته وويل چې د هغې ويډيو په اړه څېړنې ترسره شوي کومه چې دا په ډاګه کوي چې د برحاله امنيتي ځواکونو يو غړی د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو يو پخوانی غړی شکنجه کوي او دا چې د دغې پېښې مرتکبين به ونيول شي له دې سره سره، آن په کومو مواردو کې چې د څېړنو اعلان هم شوی، له اعلان ور ها خوا يې د دغو هڅو د پرمختګ په تړاو شفافيت او احتساب شتون نه لري.[۴۴]

[۴۳] د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۲ کال په مارچ مياشت کې د طالبانو مشر د بنديانو په تړاو د نظام د سمون په اړه د چلند اصول صادر کړل، چې له مخې يې کوم چارواکی يا د پرسونل غړی چې له بنديانو سره ناوړه چلند کوي، د مجازاتو وړ وګڼل شي او يا هم له وظيفې څخه وويستل شي. (آرټ. 34). برسېره پر دې، د ۲۰۲۲ کال د مارچ په ۱۵، د طالبانو مشر صادر کړ: د تحقيقاتو او د توقيف د مودې په ترڅ کې د تورنو کسانو د توقيف حکم، د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۱۵ مه ۲۹ ګڼه. په فرمان کې راغلي: "د توقيف پر مهال د شکنجې ټول ډولونه منع دي، ځکه يوازې محکمه د مجازاتو د پرېکړې واک لري. که له محکمې پرته بل څوک يو کس ته سزا ورکړي، د هغه عمل بې انصافي او ظلم ګڼل کېږي او د ظلم مخنيوی فرض دی او د ظلم زغمل حرام دي.»
[۴۴] شيعه خبري آژانس، "د طالبانو له خوا په کابل کې د پخواني سرتيري شکنجه" (دري)، ۲۷ ډسمبر ۲۰۲۱. پر راتلونکې انټرنيټ پاڼه د لاس رسي وړ ده: Shia News Association, "Torture of a former soldier by the Taliban in Kabul" (Dari), 27 December 2021.

له دې سره سره، آن په کومو مواردو کې چې د څېړنو اعلان هم شوی، له اعلان ور ها خوا یې د دغو هڅو د پرمختګ په تړاو شفافیت او احتساب شتون نه لري.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا یوناما ته دنده سپارل شوې چې "د بشري حقونو او بنسټیزو آزادي ګانو په تړاو د افغانستان له خوا د هغو اسنادو د احکامو تطبیق ته وده ورکړی، ملاتړ یې وکړي او په اړه یې سلا مشوره ورکړي چې افغانستان یې غړی دولت دی او په رعایتولو یې مکلف دی."[۴۵] د دغه تعامل د یوې برخې په څېر، یوناما له بر حاله چارواکو سره د بشري حقونو زیاتره هغه سرغړونې شریکې کړې د کومو په اړه چې په دغه راپور کې بحث شوی، په ځانګړې ډول هغه چې د عمدي وژنې تورونه په کې شامل وي. د دغې موضوع په اړه د هغوی د عامه بیانیو سره په تطابق کې (په اړه یې مخکې د "مخینې او عمومي بخښنې" په برخه کې بحث شوی)، برحاله چارواکو یې زیاتره په اړه داسې ځواب ویلي چې که چېرې دغه ډول وژنې ترسره شوې هم وي، دا "د شخصي دښمنۍ یا غچ" له مخې ترسره شوې نه په یوه رسمي ظرفیت کې.

## پایله

د بشرپالنې نړیوال قانون په دې اړه تصریح کوي او د نښتو په پای کې واکمن چاروا کې د هغو کسانو د بخښلو لپاره هڅوي چې په تېرو وسله والو نښتو کې ښکېل وو. په داسې حال کې چې د برحاله چارواکو له خوا د عمومي بخښنې اعلان یو ستایل شوي ګام و، د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په وړاندې د بشري حقونو رواني سرغړونې - لکه څنګه چې په دې راپور کې مستند شوي - په ډاګه کوي چې عمومي بخښنه په بشپړ ډول نه ده رعایت شوې.

سربېره پر دې، د برحاله چارواکو، امنیتي ځواکونو او نورو له خوا د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو صحرایي وژنې، خپلسرې نیونې او توقیفونه او شکنجه او ناوړه چلند د بشري حقونو له هغو نړیوالو مکلفیتونو سره په تناقض کې دي چې افغانستان یې پر رعایتولو مکلف دی.

د بشري حقونو د داسې سرغړونو د نه ترسره کولو مسولیت درلودلو سربېره، برحاله چارواکې مکلف دي چې د بشري حقونو د سرغړونو د مخنیوي لپاره مناسب ګامونه پورته کړي او ادعا شوي سرغړونې په بشپړ او اغیزمن ډول، سمدستي او بې طرفه توګه وڅېړي، او که چیرې مناسب وي، د تورنو کسانو پر ضد اقدام وکړي. برحاله چارواکي دنده لري چې ژوند ته "تر معقول برېده د وړاندوینې وړ" ګواښونو مخه ونېسي. په ښه ډول د بشري حقونو مستند شویو روانو هغو سرغړونو ته په کتو چې د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو غړي ورسره د طالبانو د بېرته راتګ راهیسې په تېرو ۲۰ میاشتو کې مخ شوي،د برحاله چارواکو غړي په ښکاره معافیت سره د بشري حقونو سرغړونو ته ادامه ورکوي یا په ځواب کې پاتې راځیاو د لوړ پوړو چارواکو لخوا، د عامه اعلامیو پرته، د مخنیوي اقداماتو په اړه لږ شواهد شتون لري.

د طالبانو د مشر له خوا برحاله چارواکو ته د یوې سپارښتنې پرته چې د هغې رعایتول ډاډمن کړي، د عمومي بخښنې په تړاو هیڅ تحریري متن په عام ډول نه دی خپور شوی. نو له همدې امله د بخښنې د زمني محدودي او د شکایتونو یا سرغړونو د سمبالولو په موخه د طرز العملونو او تدابیرو په اړه کوم وضاحت شتون نه لري.

د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په ښه کول د دغو ډلو ترمنځ د وېرې چاپیریال رامنځ ته کړی. یوناما له زیات شمېر دغو ډول اشخاصو څخه اورېدلي چا چې د دې خبر ورکړی چې هغوي د برحاله چارواکو د غړو له خوا د نیونې یا وژنې په وېره کې ژوند کوي، چې ځینې یې له دې امله پټ شوي. د بخښنې یو هدف د پخلاینې هڅول او د یوه ملت په ژوند کې عادي حالت ته د اړیکو راوستل دي، چې دغه چاره د پایېدونکې سولې په رامنځ ته کولو او د وسله والې نښتې د بیا رامنځ ته کېدو په مخنیوي کې مرسته کوي.[۴۶]

[۴۵] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک 2626، 17 مارچ 2020، 2022) S/RES/2626) پارا. 5(e)، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه لیک 2678، 16 مارچ 2023، 2023) S/RES/2678) لخوا تمدید شوی

[۴۶] د سره صلیب نړیواله کمېټه، "بخښنې او د بشرپالنې نړیوال قانون: موخه او محدوده"، (۴ اکتوبر ۲۰۲۷). پر راتلونکې انټرنیټ پاڼې د لاس رسي وړ دی: .(International Committee on the Red Cross, “Amnesties and International Humanitarian Law: Purpose and Scope”, (4 October 2017

د برحاله چارواکو له خوا خلکو ته د په ډاګه شوې ژمنې په پوره کولو او د عدالت منګولو ته د بشري حقونو د سرغړونو د مرتکبینو په سپارلو کې پاتې راتلل ښايي د افغانستان د راتلونکي ټيکاو لپاره جدي پايلې ولري.

## د افغانستان د برحاله چارواکو لپاره سپارښتنې:

برحاله چارواکي دې  د عمومی عفوي په اړه روښانه او ليکلي لارښوونې خپرې کړي، داسي لارښوونې چې د زماني او جغرافيايي محدودې په ګډون د عفوي لپاره شرایط ټاکي.

برحاله چارواکي دې د راتلونکو لارو چارو له لارې د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو په ضد د بشري حقونو د سرغړونو د مخنيوي په پار اقدامات ترسره کړي، د هغو په ګډون چې د شخصي ادارو يا ګروپونو له خوا ترسره شوي:

- اوسنې چارواکو او پرسونل ته د واضحو لارښوونو صادرول چې دا ډول کړنې غيرقانوني دي او عاملين به د جنايي تحقيقاتو له لارې حساب شي.
- د دې يقيني کول چې د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو په ضد د بشري حقونو ادعا شويو سرغړونو په کره، شفاف ډول جنايي څېړنې ترسره شوي، او
- د دغه ډول سرغړونو د څېړنو د پرمختګ او احتساب ته د مرتکبینو د حاضرولو لپاره د هغوي د هڅو په اړه د عامه معلوماتو خپرول.

---

**۱۲** د سولې پر وړاندې خنډونه: په افغانستان کې د پخواني حکومت د چارواکو او د پخواني افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د غړو پر ضد د بشري حقونو سرغړوني: ۲۰۲۱ آګسټ ۱۵ - ۲۰۲۳ جون ۳۰

# د حاکمو چارواکو د بهرنیو چارو وزارت له خوا په کابل کې د یوناما د دفتر د بشري حقونو برخې د پخواني حکومت د کارکوونکو او پوځي ځواکونو پر وړاندې د بشري حقونو د سرغړونې په اړه د راپور د مسودې ځواب.

**د بشر د حقوقو او د ښځو د نړیوالو چارو ریاست**
**کابل، د ۲۰۲۳ کال آګسټ**

د بشري حقونو د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه راپور ورکول د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې د هر غړي هیواد یو له مهمو مکلفیتونو څخه دی.

د بشري حقونو د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه راپور ورکول د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې د هر غړي هیواد یو له مهمو مکلفیتونو څخه دی. افغانستان هم د نړیوالې ټولنې یو نه جبران کیدونکی غړی دی او د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د ملګرو ملتونو د بشري حقونو نړیوالو کنوانسیونونو ته د راپور ورکوونکي ارګان په توګه په کابل کې د یوناما د بشري حقونو د څانګې د راپور مسوده د تخنیکي او همغږۍ په کمیټه کې شاملو ټولو دولتي څانګو سره شریک کړی، ترڅو د حقایقو موندلو، موجوده اسنادو او د قانون د حاکمیت د استازو لخوا د محکمو د فیصلو د پلي کولو طریقې پر بنسټ نظر وړاندې کړي، په کابل کې د یوناما دفتر د بشري حقونو د څانګې لپاره لاندې د راپور ځوابونه دي:

په کابل کې د یوناما دفتر د بشري حقونو خدمت: په کابل کې د یوناما دفتر د بشري حقونو د برخې مسودة د تېر حکومت د کارکوونکو پر وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو په اړه و ارزول شوه. د د شکنجو او د بندیانو د حقونو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین فرمان صادر شوی چې په ټول هیواد کې نافذ دی. له بلې خوا د اسلامي امارت له بریا وروسته تر نن ورځې پورې د اسلامي امارت د امنیتي بنسټونو د کارکوونکو له لوري د بشري حقونو د نقض قضیې (له محاکمې پرته قتل، په خپل سر نیول، توقیف، شکنجه او نور د بشري حقونو خلاف کړنې). د تېر حکومت د مامورینو او امنیتي ځواکونو په اړه څه نه دي ویل شوي.

د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ د افغانستان د اسلامي امارت له بریا سره سم، ټول هغه اشخاص چې په پخواني حکومت او بېلابېلو ادارو کې یې دندې ترسره کړې وې، وبښل شول او د امیرالمومنین د عمومي بښنې فرمان صادر شو. دغه د خوښۍ خبر د اسلامي امارت د ویاند لخوا په یوه خبري کنفرانس کې په رسمي ډول اعلان شو، د پخواني حکومت د کارکوونکو او هغو کسانو ته چې په هر ډول شرایطو کې د خپل امنیت په اړه اندیښمن وو، د ډاډګیرنې په موخه دا اعلان او تبلیغ ټولو هیوادوالو ته وشو او د اسلامي امارت اړوند څانګو ته حکم وشو تر څو پدې اړه لازم تدابیر ونیسي.

دغه راز د افغانستان اسلامي امارت د عالي مقام د حکم ۲۹ شمارې په اساس د ۱۲/۸/۱۴۴۳ هـ ق کې د نیولو او تحقیق پر مهال د تورن د نه شکنجې، توهین، سپکاوي او وهلو په اړه فرمان صادر شوی دی. د پورتنیو حکمونو د سرغړونې په صورت کې به له سرغړونکو سره جدي او قانوني چلند وشي.

د شکنجې په اړه باید وویل شي چې د اسلامي امارت د امنیتي ارګانونو د بشري حقونو څارونکي په ټولیزه توګه په ټولو توقیف ځایونو کې په دندو ګمارل شوي او د سرغړونکو سره به قانوني چلند کیږي. د خپلسرو نیولو، شپنیو عملیاتو او نورو مسایلو په برخه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین لیکلي فرمانونه صادر شوي او ټولې دولتي ادارې یې په جدي توګه تطبیق او پلي کولو ته مکلف دي.

د پخوانۍ ادارې هیڅ پوځي افسر په امنیتي بنسټونو کې د خپلو فعالیتونو له امله نه دی نیول شوی، نه توقیف شوی او نه شکنجه شوی دی. د تیرې ادارې هغه کارکوونکي چې د اسلامي امارت له مخالفو ډلو سره یو ځای شوي او یا یې د نظام د تخریب په موخه نظامي فعالیتونه کړي، د ټولو قانوني لارو چارو په نظر کې نیولو سره نیول شوي او عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شوي دي.

تر اوسه پورې د امیرالمؤمنین د عمومي بښنې د حکم د نه عملی کولو په تړاو کومه قضیه نه ده لیدل شوې. په هغه صورت کې چې د اسلامي امارت کوم چارواکي یا امنیتي او دفاعي بنسټ د بخښنې له فرمان څخه سرغړونه کړې وي، موضوع به یې په رسمي توګه وڅېړل شي او عاملین به یې د عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي.

هغه شکمن کسان چې د عمومي بښنې له فرمان وروسته یې جرمونه کړي وي د کشفي او کشفي ارګانونو له خوا پلټل کېږي او د شرعي احکامو له مخې به ورسره چلند کېږي. د پلټنو په مهال د ملزمانو ټولو حقونو ته درناوی شوی او ورسره هیڅ قسمه بد سلوک نهٔ دی شوی.

د یادولو وړ خبره دا ده چې د امیرالمؤمنین یو شمیر فرمانونه د بشر د حقوقو د رعایت، د جنګی اسیرانو، له دریو محکمو څخه وروسته د حدودو په پلي کولو کې د مشرتابه د اجازې ترلاسه کول ، د بندي کولو صلاحیت او د توقیف موده، له بندیانو سره ښه چلند، د محکمې له پرېکړې پرته د مجازاتو مخنیوی، د پوځي محکمو د قضیو د حدودو ټاکل، په محکمو کې د هغو دوسیو څېړل چې د یوناما د دفتر له راپور سره تړاو لري، چې د ۱۴۴۴ هـ ق کال په ۱۴۳۲ هـ ل کال په رسمی جریده کی چاپ شوي او د لاسرسي وړ دي.

که په افغانستان کې د یوناما دفتر د کشفي ارګانونو له خوا د بشري حقونو د سرغړونو په اړه کومې مشخصې او مستندې ادعاوې لري، باید دغه موضوع په تفصیل سره له دغه وزارت سره شریکه کړي، څو له اړوندو بنسټونو سره یې شریک او هر اړخیزه څېړنه وکړي.

**پای**